**د افغـــانستان اســـلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**٦ / ذوالقعدة الحرام /١۴۴۴ هـ، ق موافق د ۵/ جوزا /١۴٠٢هـ، ش**

# دکعبې شريفې ابتدائي جوړونه او د حج تاريخچه

**الحمد لله حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه كما يحب ربنا ويرضى وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبد الله ورسوله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا أما بعد:**

**قال الله سبحانه وتعالى :{ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكاً وَهُدىً لِلْعَالَمِينَ. فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِناً وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ} آل عمران:(٩٧)**

## الف: دکعبې شريفې ابتدائي جوړونه:

**الله جل جلاله کعبه شريفه د مسلمانانو لپاره قبله او د عبادت مرکز پيدا کړی ده ، د مسلمانانو ارواح تل د کعبې شريفې په لور مائل وي او د کعبې شريفې د زيارت تږي وي او د کعبې شريفې په زيارت نه مړيږي، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:{وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا} البقرة: ١٢۵.**

**ترجمه:- او(ياد کړه ای محمده!) کله چې مونږه بيت الله د خلکو لپاره د جمع کيدو او د امن ځای وګرځاوه.**

**ترجمان القرآن عبدالله بن عباس رضي الله عنه د(مثابة) په تفسير کې فرمايي: نه پوره کيږي ددوې حاجت دې کور څخه، ورته راځي، بيا ورڅخه ګرځي کورونو ته بيا ورته راګرځي. [تفسير الطبري]**

**کعبه شريفه د الله تعالی هغه سپيڅلې او مقدس کور دی چې د ځمکې په سر لومړی آباد شوی دی. الله تعالی فرمايې: {إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكاً وَهُدىً لِلْعَالَمِينَ} آل عمران: (٩٦)**

**ترجمه:- بيشکه اول کور چې د خلکو لپاره جوړ کړی شوی دی، خامخا هغه دی چې په مکه کې دی ، چې ډير برکتي دی او د عالَمونو لپاره هدايت دی.**

**کعبه شريفه دالله تعالی هغه مقدس او سپيڅلې کور دی چې مسلمانان په پنځه وخته لمونځونو کې خپل مخونه د کعبې شريفې په لور اړوي.**

**امام مجاهد چې مشهور مفسر دی هغه ددې آيت په تفسير کې وايې: (الله تعالی د کعبې شريفې ځای زر کاله مخکې د ځمکې د نورې آبادۍ څخه پيدا کړی دی).[الجامع لأحكام القرآن للقرطبی]**

**کعبه شريفه دمسلمانانو دلمانځه، حج ، عمرې ، طواف او اعتکاف ځای دی .**

**د کعبې شريفې د ابتدائي جوړونې په اړه د مؤرخينو څخه مختلف اقوال نقل شوي دي.**

ځيني مؤرخين وايې چې الله تعالی په خپل قدرت سره کعبه شريفه پيدا کړی ده او کوم مخلوق نه ده جوړه کړی.ځيني نور بيا وايي چې د لومړي ځل لپاره ملائکو کعبه شريفه جوړه کړی ده.ځيني نور وايي چې کعبه شريفه د لومړي ځل لپاره حضرت آدم عليه السلام د الله تعالی په امر سره جوړه کړی ده.وهب بن منبه وايي چې د لومړي ځل لپاره حضرت شيث عليه السلام جوړه کړی ده. [شرح الزرقاني]

معاصر ليکوالان وايې که چيرې تاريخي مراجعو ته رجوع وکړو ، وبه وينو چې کعبه شريفه د شروع څخه تر نن پورې يولس ځله جوړه شوی او رغول شوی ده:۱-لومړي ځل لپاره ملائکو جوړه کړی ده. ۲-بيا آدم عليه السلام جوړه کړی ده.۳-بيا شيث عليه السلام جوړه کړی ده.۴-بيا ابراهيم عليه السلام جوړه کړی ده. ۵-بيا عمالقه وو جوړه کړی ده. ٦-بيا د جرهم قبيلې جوړه کړی ده.۷-بيا قصی بن کلاب جوړه کړی ده.۸-بيا قريشو جوړه کړی ده.۹ -بيا عبدالله بن زبير رضي الله عنه جوړه کړی ده.۱۰-بيا حجاج بن يوسف ثقفی جوړه کړی ده.۱۱-او بيا سلطان مراد خان عثماني جوړه کړی ده، چې ددغو جوړولو د ځينو مشهورو مرحلو تفصيل په لاندې توګه دی:

**۱- دکعبې شريفې ابتدائي جوړول د ملائکو په لاس شوي دي:** کعبه شريفه د لومړي ځل لپاره ملائکو دالله تعالی په حکم سره جوړه کړی ده.په تاريخي رواياتو کې راځي هرکله چې الله تعالی ملائکو ته وويل: (إني جاعل في الأرض خليفة) زه په ځمکه کې د خليفه پيدا کوونکی يم. ملائکو ورته وويل: ای ربه ! ته په ځمکه کې داسې څوک پيداکوی چې هغه به په ځمکه کې فساد کوي او په ځمکه کې به قتل کوي او وينه به تويوي.الله تعالی ملائکو ته وفرمايل: (إني أعلم ما لا تعلمون).ملائکو ګمان وکړ چې مونږ د خپل رب خبره رد کړه او الله تعالی له دې امله پر مونږ په غضب دی ملائکو په عرش باندې پناه ونيوله او الله تعالی ته يې تضرع او ژړا وکړه او د هغه د غضب له ويرې به يې د عرش څخه دری ساعته طواف کولو. الله تعالی وربانديې رحم وکړ او ددوی توبه يې قبوله کړه الله تعالی د عرش لاندې يو کور جوړ کړ چې بيت المعمور ورته ويل کيږي او دوی ته يې امر وکړ چې ددې کور طواف کوئ. بيا الله تعالی ملائکو ته وويل چې په ځمکه کې ددې په شان کور جوړ کړئ او الله تعالی د ځمکې اوسيدونکو ته امر وکړ چې ددې کور داسې طواف کوئ لکه داسمانونو والا چې د بيت المعمور طواف کوي.[مختصرا من أخبار مكة للأزرقي]

**۲- د آدم عليه السلام جوړونه:** امام بيهقي په دلائل النبوة کې ليکلي دي د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله تعالی حضرت آدم او بي بي حواء عليهما السلام ته جبريل عليه السلام ور وليږه او ورته يې وويل: زما لپاره يو کور جوړ کړئ او جبرائيل عليه السلام ورته نقشه وويستله.حضرت آدم عليه السلام کنده ويستله او بي بي حواء خاوره نقلوله آن تر دې پورې چې د لاندې څخه ورته آواز وشو چې بس دی ای آدم عليه السلام! کله چې بيت الله جوړ شو الله تعالی دوی ته وحی وکړه چې د کعبې شريفې طواف وکړئ. ورته وويل شو چې ته لومړی کس يې او دا لومړی کور دی.

**۳- د حضرت ابراهيم عليه السلام جوړول:** د حضرت آدم عليه السلام څخه وروسته کعبه شريفه حضرت ابراهيم عليه السلام جوړه کړه.د ابراهيم عليه السلام څخه مخکې په کعبه شريفه سيلاب راغلی وو او بيت الله شريف ړنګ شوی ؤ او تهدابونه يې په خاورو او شګو کې پټ شوي ؤ.

ابراهيم عليه السلام زوی اسماعيل عليه السلام به دخپل پلار سره د کعبې شريفې په جوړولو کې مرسته کوله. د ابراهيم عليه السلام دا اقدام دالله تعالی په حکم سره کړی ؤ او د بيت الله شريف دا جوړونه د قرآن کريم او احاديثو په صريح نص سره ثابته ده.

الله جل جلاله فرمايلي دي:{وَإِذْيَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ}البقره:(۱۲۷)

ترجمه:- او ياد کړه هغه وخت چې ابراهيم عليه السلام اوچوتول بنيادونه دکعبې او اسماعيل السلام هم او داسې دعاء يې کوله: ای زمونږ ربه! قبول کړه زمونږ څخه دا کار( د کعبې آبادول)، بيشکه ته اوريدونکی او پوهه ذات يې.

په یو بل آیت شریف کې الله تعالی داسې فرمایي:{وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ}الحج: (۲۶)

ترجمه:- هغه وخت را یاد کړه کله چې مونږ وښود ابراهیم علیه السلام ته ځای دجوړولو د کعبې شریفې( هغه ته مو امر وکړ) او مه شریکه وه زما سره څوک او پاک کړه کور زما (له بتانو څخه) د طواف کوونکو ، قیام کوونکو، رکوع او سجده کوونکو په مخ.

ددې ایت شریف څخه معلومیږي چې ددې څخه مخکې کعبه شریفه ړنګه شوی وه آن تردې چې تهدابونه یي هم غائب شوي ؤ ؛ ځکه د روایاتو له مخې ابراهیم علیه السلام هغه شخص ؤ چې د بیت الله تهدابونه یي دالله تعالی په امر سره رابرسیره کړل او بیت الله شریف یې د بیا ځل لپاره ورغاوه.

امام زرکشي دکعبې شریفې په اړه یو روایت نقل کړی دی چې ابراهیم علیه السلام کعبه شریفه اوه متره لوړه ،دیرش متره اوږده او شل متره پلنه جوړه کړه او کعبه پرته له چت څخه وه، مګر سهیلي وایي چې لوړوالی یي نه ۹ متره ؤ .

امام بخاري رح په خپل صحیح کې د بیت الله د جوړېدو مفصله لاندې واقع ذکر کړی ده:(قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَوَّلَ (أَوَّلُ) مَا اتَّخَذَ النِّسَاءُ الْمِنْطَقَ مِنْ قِبَلِ أُمِّ إِسْمَاعِيلَ اتَّخَذَتْ مِنْطَقًا لَتُعَفِّيَ أَثَرَهَا عَلَى سَارَةَ ثُمَّ جَاءَ بِهَا إِبْرَاهِيمُ وَبِابْنِهَا إِسْمَاعِيلَ وَهِيَ تُرْضِعُهُ فَوَضَعَهُمَا (حَتَّى وَضَعَهُمَا) عِنْدَ الْبَيْتِ عِنْدَ دَوْحَةٍ فَوْقَ زَمْزَمَ (الزَّمْزَمِ) فِي أَعْلَى الْمَسْجِدِ وَلَيْسَ بِمَكَّةَ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ فَوَضَعَهُمَا هُنَالِكَ وَوَضَعَ عِنْدَهُمَا جِرَابًا فِيهِ تَمْرٌ وَسِقَاءً فِيهِ مَاءٌ ثُمَّ قَفَّى إِبْرَاهِيمُ مُنْطَلِقًا فَتَبِعَتْهُ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ فَقَالَتْ يَا إِبْرَاهِيمُ أَيْنَ تَذْهَبُ وَتَتْرُكُنَا بِهَذَا (فِي هَذَا) الْوَادِي الَّذِي لَيْسَ فِيهِ إِنْسٌ (أَنِيسٌ) وَلَا شَيْءٌ فَقَالَتْ لَهُ ذَلِكَ مِرَارًا وَجَعَلَ لَا يَلْتَفِتُ إِلَيْهَا فَقَالَتْ لَهُ آللَّهُ الَّذِي أَمَرَكَ بِهَذَا قَالَ نَعَمْ قَالَتْ إِذَنْ لَا يُضَيِّعُنَا ثُمَّ رَجَعَتْ فَانْطَلَقَ إِبْرَاهِيمُ حَتَّى إِذَا كَانَ عِنْدَ الثَّنِيَّةِ حَيْثُ لَا يَرَوْنَهُ اسْتَقْبَلَ بِوَجْهِهِ الْبَيْتَ ثُمَّ دَعَا بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ (الدَّعَوَاتِ) وَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ رَبِّ [إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ] حَتَّى بَلَغَ [يَشْكُرُونَ] وَجَعَلَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ تُرْضِعُ إِسْمَاعِيلَ وَتَشْرَبُ مِنْ ذَلِكَ الْمَاءِ حَتَّى إِذَا نَفِدَ مَا فِي السِّقَاءِ عَطِشَتْ وَعَطِشَ ابْنُهَا وَجَعَلَتْ تَنْظُرُ إِلَيْهِ يَتَلَوَّى أَوْ قَالَ يَتَلَبَّطُ (يَتَلَمَّظُ) فَانْطَلَقَتْ كَرَاهِيَةَ أَنْ تَنْظُرَ إِلَيْهِ فَوَجَدَتِ الصَّفَا أَقْرَبَ جَبَلٍ فِي الْأَرْضِ يَلِيهَا فَقَامَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَتِ الْوَادِيَ تَنْظُرُ هَلْ تَرَى أَحَدًا فَلَمْ تَرَ أَحَدًا فَهَبَطَتْ مِنَ الصَّفَا حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْوَادِيَ رَفَعَتْ طَرَفَ دِرْعِهَا ثُمَّ سَعَتْ سَعْيَ الْإِنْسَانِ الْمَجْهُودِ حَتَّى جَاوَزَتِ الْوَادِيَ ثُمَّ أَتَتِ الْمَرْوَةَ فَقَامَتْ عَلَيْهَا وَنَظَرَتْ هَلْ تَرَى أَحَدًا فَلَمْ تَرَ أَحَدًا فَفَعَلَتْ ذَلِكَ سَبْعَ مَرَّاتٍ.قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم- فَذَلِكَ سَعْيُ النَّاسِ (فَلِذَلِكَ سَعَى النَّاسُ) بَيْنَهُمَا فَلَمَّا أَشْرَفَتْ عَلَى الْمَرْوَةِ سَمِعَتْ صَوْتًا فَقَالَتْ صَهٍ تُرِيدُ نَفْسَهَا ثُمَّ تَسَمَّعَتْ فَسَمِعَتْ أَيْضًا فَقَالَتْ قَدْ أَسْمَعْتَ إِنْ كَانَ عِنْدَكَ غَوَاثٌ (غِوَاثٌ) فَإِذَا هِيَ بِالْمَلَكِ عِنْدَ مَوْضِعِ زَمْزَمَ فَبَحَثَ بِعَقِبِهِ أَوْ قَالَ بِجَنَاحِهِ حَتَّى ظَهَرَ الْمَاءُ فَجَعَلَتْ تُحَوِّضُهُ وَتَقُولُ بِيَدِهَا هَكَذَا وَجَعَلَتْ تَغْرِفُ مِنَ الْمَاءِ فِي سِقَائِهَا وَهُوَ يَفُورُ بَعْدَ مَا تَغْرِفُ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ النَّبِيُّ–صلى الله عليه وسلم- يَرْحَمُ اللَّهُ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ لَوْ تَرَكَتْ زَمْزَمَ أَوْ قَالَ لَوْ لَمْ تَغْرِفْ مِنَ الْمَاءِ لَكَانَتْ زَمْزَمُ عَيْنًا مَعِينًا قَالَ فَشَرِبَتْ وَأَرْضَعَتْ وَلَدَهَا فَقَالَ لَهَا الْمَلَكُ لَا تَخَافُوا الضَّيْعَةَ فَإِنَّ هَا هُنَا بَيْتَ اللهِ (فَإِنَّ هَذَا بَيْتُ اللهِ) يَبْنِي هَذَا الْغُلَامُ وَأَبُوهُ وَإِنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ أَهْلَهُ وَكَانَ الْبَيْتُ مُرْتَفِعًا مِنَ الْأَرْضِ كَالرَّابِيَةِ تَأْتِيهِ السُّيُولُ فَتَأْخُذُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ فَكَانَتْ كَذَلِكَ حَتَّى مَرَّتْ بِهِمْ رُفْقَةٌ مِنْ جُرْهُمَ أَوْ أَهْلُ بَيْتٍ مِنْ جُرْهُمَ مُقْبِلِينَ مِنْ طَرِيقِ كَدَاءٍ (كُدَى) فَنَزَلُوا فِي أَسْفَلِ مَكَّةَ فَرَأَوْا طَائِرًا عَائِفًا فَقَالُوا إِنَّ هَذَا الطَّائِرَ لَيَدُورُ عَلَى مَاءٍ لَعَهْدُنَا بِهَذَا الْوَادِي وَمَا فِيهِ مَاءٌ فَأَرْسَلُوا جَرِيًّا أَوْ جَرِيَّيْنِ فَإِذَا هُمْ بِالْمَاءِ فَرَجَعُوا فَأَخْبَرُوهُمْ بِالْمَاءِ فَأَقْبَلُوا قَالَ وَأُمُّ إِسْمَاعِيلَ عِنْدَ الْمَاءِ فَقَالُوا أَتَأْذَنِينَ لَنَا أَنْ نَنْزِلَ عِنْدَكِ فَقَالَتْ نَعَمْ وَلَكِنْ لَا حَقَّ لَكُمْ فِي الْمَاءِ قَالُوا نَعَمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم- فَأَلْفَى ذَلِكَ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ وَهِيَ تُحِبُّ الْإِنْسَ (الْأُنْسَ) فَنَزَلُوا وَأَرْسَلُوا إِلَى أَهْلِيهِمْ فَنَزَلُوا مَعَهُمْ حَتَّى إِذَا كَانَ بِهَا أَهْلُ أَبْيَاتٍ مِنْهُمْ وَشَبَّ الْغُلَامُ وَتَعَلَّمَ الْعَرَبِيَّةَ مِنْهُمْ وَأَنْفَسَهُمْ وَأَعْجَبَهُمْ حِينَ شَبَّ فَلَمَّا أَدْرَكَ زَوَّجُوهُ امْرَأَةً مِنْهُمْ وَمَاتَتْ أُمُّ إِسْمَاعِيلَ فَجَاءَ إِبْرَاهِيمُ بَعْدَمَا تَزَوَّجَ إِسْمَاعِيلُ يُطَالِعُ تَرِكَتَهُ فَلَمْ يَجِدْ إِسْمَاعِيلَ فَسَأَلَ امْرَأَتَهُ عَنْهُ فَقَالَتْ خَرَجَ يَبْتَغِي لَنَا ثُمَّ سَأَلَهَا عَنْ عَيْشِهِمْ وَهَيْئَتِهِمْ فَقَالَتْ نَحْنُ بِشَرٍّ نَحْنُ فِي ضِيقٍ وَشِدَّةٍ فَشَكَتْ إِلَيْهِ قَالَ فَإِذَا جَاءَ زَوْجُكِ فَاقْرَئِي عَلَيْهِ السَّلَامَ وَقُولِي لَهُ يُغَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِهِ فَلَمَّا جَاءَ إِسْمَاعِيلُ كَأَنَّهُ آنَسَ شَيْئًا فَقَالَ هَلْ جَاءَكُمْ مِنْ أَحَدٍ قَالَتْ نَعَمْ جَاءَنَا شَيْخٌ كَذَا وَكَذَا فَسَأَلَنَا عَنْكَ فَأَخْبَرْتُهُ وَسَأَلَنِي كَيْفَ عَيْشُنَا فَأَخْبَرْتُهُ أَنَّا فِي جَهْدٍ وَشِدَّةٍ قَالَ فَهَلْ أَوْصَاكِ

بِشَيْءٍ قَالَتْ نَعَمْ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَيَقُولُ غَيِّرْعَتَبَةَ بَابِكَ قَالَ ذَاكِ أَبِي وَقَدْ أَمَرَنِي أَنْ أُفَارِقَكِ الْحَقِي بِأَهْلِكِ فَطَلَّقَهَا وَتَزَوَّجَ مِنْهُمْ أُخْرَى فَلَبِثَ عَنْهُمْ إِبْرَاهِيمُ مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ أَتَاهُمْ بَعْدُ فَلَمْ يَجِدْهُ فَدَخَلَ عَلَى امْرَأَتِهِ فَسَأَلَهَا عَنْهُ فَقَالَتْ خَرَجَ يَبْتَغِي لَنَا قَالَ كَيْفَ أَنْتُمْ وَسَأَلَهَا عَنْ عَيْشِهِمْ وَهَيْئَتِهِمْ فَقَالَتْ نَحْنُ بِخَيْرٍ وَسَعَةٍ وَأَثْنَتْ عَلَى اللهِ فَقَالَ مَا طَعَامُكُمْ قَالَتِ اللَّحْمُ قَالَ فَمَا شَرَابُكُمْ قَالَتِ الْمَاءُ قَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي اللَّحْمِ وَالْمَاءِ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم-وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ يَوْمَئِذٍ حَبٌّ وَلَوْ كَانَ لَهُمْ دَعَا لَهُمْ فِيهِ قَالَ فَهُمَا لَا يَخْلُو عَلَيْهِمَا أَحَدٌ بِغَيْرِ مَكَّةَ إِلَّا لَمْ يُوَافِقَاهُ قَالَ فَإِذَا جَاءَ زَوْجُكِ فَاقْرَئِي عَلَيْهِ السَّلَامَ وَمُرِيهِ يُثْبِتُ (يُثَبِّتُ) عَتَبَةَ بَابِهِ فَلَمَّا جَاءَ إِسْمَاعِيلُ قَالَ هَلْ أَتَاكُمْ مِنْ أَحَدٍ قَالَتْ نَعَمْ أَتَانَا شَيْخٌ حَسَنُ الْهَيْئَةِ وَأَثْنَتْ عَلَيْهِ فَسَأَلَنِي عَنْكَ فَأَخْبَرْتُهُ فَسَأَلَنِي كَيْفَ عَيْشُنَا فَأَخْبَرْتُهُ أَنَّا بِخَيْرٍ قَالَ فَأَوْصَاكِ بِشَيْءٍ قَالَتْ نَعَمْ هُوَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَيَأْمُرُكَ أَنْ تُثْبِتَ (تُثَبِّتَ) عَتَبَةَ بَابِكَ قَالَ ذَاكِ أَبِي وَأَنْتِ الْعَتَبَةُ أَمَرَنِي أَنْ

أُمْسِكَكِ ثُمَّ لَبِثَ عَنْهُمْ مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ جَاءَ بَعْدَ ذَلِكَ وَإِسْمَاعِيلُ يَبْرِي نَبْلًا لَهُ تَحْتَ دَوْحَةٍ قَرِيبًا مِنْ زَمْزَمَ فَلَمَّا رَآهُ قَامَ إِلَيْهِ فَصَنَعَا كَمَا يَصْنَعُ الْوَالِدُ بِالْوَلَدِ وَالْوَلَدُ بِالْوَالِدِ ثُمَّ قَالَ يَا إِسْمَاعِيلُ إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي بِأَمْرٍ قَالَ فَاصْنَعْ مَا أَمَرَكَ رَبُّكَ قَالَ وَتُعِينُنِي قَالَ وَأُعِينُكَ قَالَ فَإِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَبْنِيَ هَا هُنَا بَيْتًا وَأَشَارَ إِلَى أَكَمَةٍ مُرْتَفِعَةٍ عَلَى مَا حَوْلَهَا قَالَ فَعِنْدَ ذَلِكَ رَفَعَا الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ فَجَعَلَ إِسْمَاعِيلُ يَأْتِي بِالْحِجَارَةِ وَإِبْرَاهِيمُ يَبْنِي حَتَّى إِذَا ارْتَفَعَ الْبِنَاءُ جَاءَ بِهَذَا الْحَجَرِ فَوَضَعَهُ لَهُ فَقَامَ عَلَيْهِ وَهُوَ يَبْنِي وَإِسْمَاعِيلُ يُنَاوِلُهُ الْحِجَارَةَ وَهُمَا يَقُولَانِ [رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ] قَالَ فَجَعَلَا يَبْنِيَانِ حَتَّى يَدُورَا حَوْلَ الْبَيْتِ وَهُمَا يَقُولَانِ [رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ] صحيح البخاري

ترجمه:- عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايلي دي، دلومړي ځل لپاره چې د ښځو له خوا کمربند وتړل شو هغه داسماعيل عليه السلام مور وه -يعنی د خادمانو په شان يې خپله ملا وتړله لکه خادماني يې چې خدمت ته تړي -چې کمر بند يې وتړلو ددې لپاره چې له منځه يوسي په دې سره قهر دساره. بيا ابراهيم عليه السلام بي بي هاجره او اسماعيل عليهما السلام دواړه په داسې حال کې بيت الله شريف ته راوستل چې بي بي هاجرې اسماعيل عليه السلام ته شيدې ورکولی او دواړه يې د هغه ونې سيوري لاندې کينول چې د زم زم کوهي په سر ولاړه وه د اوسني مسجد حرام په لوړه برخه کې او په مکه کې هغه وخت هيڅوک نه وو او اوبه هم په کې نه وی، هغوی دواړه يې بيت الله سره ميشته کړل او ددوی سره يې يو خلطه چې خرما په کې وه او يوه د اوبو مشک چې اوبه په کې وی پريښوولی. بيا ابراهيم عليه السلام مخ واړولو او روان شو داسماعيل عليه السلام مور ورپسې ور روانه شوه او ورته يې وويل: ای ابراهيمه! ته ځئ او مونږ دلته په دې دره کې پريږدې چې په کې انسان او هيڅ شی نشته؟ بي بي هاجرې ورته څو ځله دا خبره تکرار کړه او ابراهيم عليه السلام ورته التفات نه کولو. بيا هاجرې بي بي ورته وويل: آيا الله تعالی درته ددې خبرې حکم کړی دی؟ ابراهيم عليه السلام په ځواب کې ورته وويل: هو ! حضرت هاجرې بي بي وويل: مونږ به الله تعالی نه ضائع کوي او بيا واپس روانه شوه. ابراهيم عليه السلام روان شو آن تردې چې هغه کنډو ته ورسيد چې چاته نه ښکاره کيدلو، بيت الله شريف طرف ته يې مخ واړولو او په دغو جملو سره يې دعاء وغوښتله او لاسونه يې اوچت کړل او وه يې فرمايل: ای زما ربه ! ما خپل اولاد پريښود په داسې دره کې چې هيڅ کښت په کې نشته ستا دکور په خوا کې مې پريښودل... دا دعاء يې تر (يشکرون ) آيت آخره پوری وکړه. داسماعيل عليه السلام مور اسماعيل عليه السلام ته شيدې ورکولی او دهغه اوبو څخه به يې اوبه څښلی تر دې پوری چې د مشک اوبه ختمې شوی، خپله هم تږی شوه او ماشوم( اسماعيل عليه السلام) هم تږی شو او هاجرې رضي الله عنه ورته کتل او -اسماعيل عليه السلام چې دغه وخت کې دوه کلن ؤ- د تندې له امله اوړيده را اوړيده او يا داچې( يتلبط) د تندې څخه بې هوشې ورباندې راتلله په بل روايت کې راځي ( يتلمظ) ژبه يې په خوله کې اړوله او را اړوله. ددې لپاره چې هاجره بي بي اسماعيل نور ونه ويني دصفا غونډۍ ته چې ورته نږدې وه وختله او درې ته يې وکتل ترڅو وګوري چې څوک شته او که نه ؟ څوک يې په سترګو نه شول،بيا د صفا غونډۍ څخه راښکته شوه او

کله چې درې ته ورسیدله دخپل څادر  پلوونه یې را پورته کړي وو او لکه دهغه انسان په شان په چابکۍ سره روانه شوه لکه چې ډیر مصیبت ورته رسیدلی وي آن تردې چې د درې هغه بلې خوا ته تیره شوه او مروه غونډۍ ته پورته شوه او په مروه غونډۍ ودریده او وه یې کتل چې څوک شته او که نه. څوک یې تر سترګو نه شو دا تګ راتګ یې اوه ځله وکړ.ابن عباس رضی الله عنه وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دهاجرې رضی الله عنها د سعی له امله خلک د صفا او مروه ترمنځ سعی کوي. کله چې مروه غونډۍ ته وختله آواز یې واوریده ځان ته یې وویل: چوپ شه . بیا یې غوږ کیښوده آواز یې واوریده ځان ته یې وویل: بیشکه اواز دې واوریده که چیرې مرسته کوونکی وي. ناڅاپه  یې د زم زم د کوهي په غاړه ملائکه ولیده چې په خپلو پښو باندې یا په خپلو وزرو سره زمکه را کنستله او اوبه راښکاره شوې . حضرت هاجری رضی الله عنها شروع وکړه هغه اوبه یې یوځای ته راجمع کولی او په خپلو لاسونو یې داسې راټولولی او اوبه یې په لپو سره د اوبو په لوخي کې اچولی او د زم زم اوبه را خوټېدلی.ابن عباس رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی دې داسماعیل علیه السلام په مور بي بي رحم وکړئ که چیرې یې زم زم اوبه پرېښې وای او یا داچې که چیرې یې په لپه
کې نه وی را اخیستی نو زم زم به د زمکې په سر روانه چینه وای. خپله یې اوبه وڅښلې او خپل ماشوم ته یې شیدې ورکړې. ملائکې ورته وویل: د ضائع کیدو څخه مه ویریږي دلته دالله تعالی کور دی؛ چې دا ماشوم او دده پلار به یې ابادوي  او الله تعالی به هیڅکله ددې کورخلک ضائع نه کړي. د بیت الله ځای دزمکې څخه په لوړه ؤ  لکه ټوپۍ( تپه) سیلابونه به چې کله راغلل یا به ښې لاس ته ترې واوړیدلې او  یا به چپ لاس ترې واوړیدلې .د اسماعیل علیه السلام موربي بي په همدې حالت کې وه چې د جرهم قبیلې یوه ډله ددوی له خوا تیریدله او یا داچې د جرهم قبیلي یوه کورنۍ د کدۍ له لارې څخه را روانه وه د مکې څخه په لاندې برخه کې یې واړول وه یې کتل چې یوه مارغه په کوم شي غوټې وهلی . خپل منځ کې وویل: بیشکه دا مارغه په اوبو ګرځي. مونږ چې څومره ددې درې په اړه معلومات لرو دلته اوبه نشته. دوی یو یا دوه کسان وروليږل هغوی چې ورغلل ګوري چې اوبه دي. بیا خپلو ملګرو ته را وګرځیدل او داوبو په اړه یې ملګرو ته معلومات ورکړل. دوی چې کله راغلل راوي وایي داسماعیل علیه السلام مور د اوبو سره وه. دوی ورته وویل: ایا مونږته اجازه راکوی چې مونږ هم دلته ستا په خوا کې واړوو؟  بي بی هاجری ور ته وویل: بلی! مګر په اوبو کې به حق نه لری. دجرهم کورنۍ وویل: سمه ده په اوبو کې به  حق نه لرو. ابن عباس رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د جرهم کورنۍ د اسماعیل مور ولیده چې مهرباني یې خوښه ګڼله. هغوی همدلته واړول اوخپلو کورنو ته یې احوال ولیږلو او هغوی هم راغلل او دلته میشته شول یو وخت کې دوی کورونه شول. اسماعیل علیه السلام زلمی شو او ددوی څخه یې عربي ژبه زده کړه او اسماعیل علیه السلام چې کله زلمی شو، په ټولو کې غوره شخصیت ؤ ،کله چې بلوغ ته ورسید دوی ورته یوه انجلۍ په نکاح ورکړه او موریې وفات شوه. کله چې اسماعیل علیه السلام واده وکړ ابراهیم علیه السلام راغی او دخپلو پاتې شوو کسانو حال احوال یې معلوملو، خو اسماعیل علیه السلام یې په کور کې پیدا نه کړ، دهغه دښځې څخه یې د اسماعیل علیه السلام  په هکله پوښتنه وکړه. داسماعیل علیه السلام ښځې ورته وویل: وتلی دی زمونږ لپاره روزي لټوي.بیا ور څخه ابراهیم علیه السلام د هغوی داقتصادي وضعیت او ژوند په اړه پوښتنه وکړه. داسماعیل علیه السلام ښځې ورته په ځواب کې وویل: مونږ په ډیر بد حالت کې یو، مونږ په سختنه او ولږه کې یو او هغه ته یې د خپل حالت څخه شکایت وکړ.ابراهیم علیه السلام ورته وویل: کله چې ستا خاوند کورته راغی زما سلام ورته ووایه او ورته ووایه چې ددروزاې درشل دې بدله کړي. کله چې اسماعیل علیه السلام کورته راغی لکه چې یو څه یې درک کړی وي.خپلې ښځې ته یې وویل: آیا څوک راغلی ؤ؟ ښځې ورته وویل؛ بلی ! یو داسې

سپین ږیرې سړی راغلی ؤ له مونږ څخه ستا په اړه پوښتنه وکړه. ما ورته معلومات ورکړل. هغه زما څخه زمونږ داقتصادي وضعیت او ژوند په اړه پوښتنه وکړه، ورته مې وویل : مونږ په ډېر تکلیف او سختئ کې یو. اسماعیل علیه السلام وویل: آیا کوم نصیحت یي درته وکړ؟ ښځې ورته وویل: بلی ! په تاسو یې سلام ویلی او درته یې ویل چې د دروازې درشل دې بدله کړه.اسماعیل علیه السلام خپلې ښځې ته وویل: هغه زما پلار ؤ او ماته یې حکم کړی چې تا دځان څخه جدا کړم. لاړه شه او دخپلی کورنی سره یوځای شه او هغه یې طلاقه کړه او دجرهم قبیلې څخه یې بله ښځه په نکاح کړه. څه وخت ابراهیم علیه السلام رانغلو بیا څه وخت وروسته دوی ته بیا راغی اسماعیل علیه السلام یې کورکې پیدا نه کړ. داسماعیل علیه السلام کورته ورغی او داسماعیل علیه السلام په اړه یې ورڅخه پوښتنه وکړه. داسماعیل علیه السلام ښځې ورته وویل: تللی دی زمونږ لپاره روزې لټوي. ابراهیم علیه السلام ورته وویل: تاسو څنګه یاست او ددوی داقتصادي حالت او ژوند څخه یې پوشتنه وکړه. داسماعیل علیه السلام ښځې ورته وویل: مونږ په ډېر ښه حالت کې یو او په پراخئ کې یو او دالله تعالی ثنا او صفت یې بیان کړ. ابراهیم علیه السلام ورته وویل: ستاسو خواړه څه شی دي؟ هغې ورته وویل: زمونږ خوراک غوښه.ابراهیم علیه السلام وویل: څښاک مو څه شی دی؟ هغې ورته وویل: اوبه. ابراهیم علیه السلام وویل: ای الله ! ته ورته په غوښه او اوبو کې برکت واچوه. پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: په دغه وخت کې ددوی په کور کې دغنم دانه نه وه او هرڅه چی یې په کور کې ؤ دهغې لپاره یې د برکت دعاء وکړه.

بس علاوه دمکې والاؤ څخه بل څوک په دې دواړو غوښه او اوبو باندې اعتماد نه کوي مګر د مزاج سره یې توافق نه کوي او هرچې د مکې والا دي ددوی د مزاجونو سره یوازې غنم او اوبه تل توافق کوي.یعنی د ابراهیم علیه دالسلام ددعاء څخه وروسته پرته دمکې څخه په بل هرځای کې چې یواځې په غوښه او اوبو باندې چا اعتماد کړی دی، د هغه د طبیعت او مزاج سره یی برابری نه دی خوړلی او بد ور باندې راغې، یواځې مکه ده چې هرڅوک په کې په غوښه او اوبو اعتماد کوي تل به یې د طبیعت سره سمون خوري.ابراهیم علیه السلام ورته وویل: کله چې دې څښتن راغی ورته زما سلام ووایه او ورته ووایه چې دخپلی دروازی درشل دې ثابته وساته. کله چې اسماعیل علیه السلام راغی وه یې ویل: آیا څوک راغلی ؤ؟ داسماعیل علیه السلام ښځې ورته وویل: بلی! سپین ږیرې دښکلې شکل خاوند راغلی ؤ او دهغه یې زیات صفتونه وکړل. زماڅخه یې ستا په باره کې پوښتنه وکړه ما ورته معلومات ورکړل.بیایې زماڅخه  زمونږ دژوند په باره کې پوښتنه وکړه ما ورته وویل: مونږ شکر په ښه حالت کې یو. اسماعیل السلام وویل آیا دکوم شي په اړه  یې درته وصیت وکړ؟ هغې ورته وویل: بلی! هغه تاته سلام ویلی او دا یې وویل: هغه تاته امر کوي چې د خپلې دروازی درشل دې ثابته وساته. اسماعیل علیه السلام وویل: هغه زما پلار ؤ او ته زما ددروازې درشل یې ، ماته یې امر کړی  دی چې زه دې وساتم. بیا ډېر وخت تیرشو وروسته ابراهیم علیه السلام بیا راغی او اسماعیل علیه السلام د هغه ونې لاندې چې د زم زم کوهي سره نږدې ولاړه وه ناست ؤ او غشی یې تراشلو. کله چې یې پلار ولید ورپاڅیده او سترې مشي یې ورسره وکړه اوهغه ډول سترې مشي یې ورسره وکړه لکه څرنګه چې یې پلار د زوی سره کوي او زوی یې دپلار سره کوي .بیا ابراهیم علیه السلام وویل: ای اسماعیله! بیشکه الله تعالی ماته دیو کار امر کړی دی. اسماعیل علیه السلام ورته وویل: هغه څه چې رب درته امر کړی دی هغه ترسره کړه.ابراهیم السلام وویل: آیا ته په کې زما سره مرسته کوی؟ اسماعیل علیه السلام ورته وویل: بلی زه درسره مرسته کوم.ابراهیم علیه السلام وویل: بیشکه الله تعالی ماته امر کړی چې زه په دی ځای کې کعبه شریفه جوړه کړم او هغه لوړی تپې او دهغې شا او خوا ته یې اشاره وکړه.

راوي وایي په همغه ځای کې یې دبیت الله شریف  اساسات پورته کړل. اسماعیل علیه السلام ورته تیګې راوړلی او ابراهیم

عليه السلام بيت الله شريف جوړولو آن تر دې چي آبادي لوړه شوه اسماعيل عليه السلام ورته دمقام ابراهيم تيگه راوړه او ابراهيم عليه السلام به په هغې دريدو او ديوال به يې جوړولو او اسماعيل عليه السلام به ورته تيگې ورکولی او دواړو دا دعاء لوستله(ای زمونږ ربه! قبول کړه زمونږ څخه دبيت الله جوړول بيشکه ته اوريدونکی او پوهه ذات يې.راوي وايي دواړو بيت الله جوړولو تر دې پورې چې دبيت الله څخه گيرچاپيره را تاؤ شول او دا دعاء به يې لوستله[رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ]

**۴- د قصی بن کلاب جوړونه:** امام ماوردي په الاحکام السلطانيه کې وايې :د ابراهيم عليه السلام څخه وروسته کعبه شريفه د جرهم قبيلې او عمالقه وو سره ؤ، تردې چې هغوی منقرض شول او د کعبې شريفې خدمت قريشو ته پاتې شو ، نو قصی بن کلاب قريشي کعبه شريفه ورغوله او مخکې کعبې شريفې چت نه درلود هغه ورته چت د لرگو او د خرما له څانگو جوړ کړ.

محمد ابن اسحاق وايي: قصی بن کلاب چې د پيغمبر عليه السلام څلورم نيکه کيده د قريشو مخور مشر ؤ او د کعبې شريفې خدمت او حجاجو ته د اوبو ورکولو شرف يې په غاړه ؤ. له خلکو يې نفقات راټول کړل، کعبه شريفه يې ونړوله او هغه يې داسې جوړه کړه چې دده څخه مخکې چا داسې نه وه جوړه کړی.

**۵- د قريشو له خوا د کعبې شريفې جوړول:** د قصی بن کلاب څخه وروسته قريش هغه قبيله وه چې داسلام څخه دمخه يې کعبه شريفه ورغوله؛ البته ددې رغولو او جوړولو علت دا ؤ چې په کعبه شريفه باندې حمله شوی وه او هغه يې ړنگه کړی وه او هم دنورو حوادثو له امله يې زيان ليدلی ؤ چې ددې حوادثو له جملې څخه يو دهغه تخريبی سيلاب راتلل ؤ چې د پيغمبرعليه السلام له بعثت

څخه څو کاله مخکې په مکه باندې راغلی ؤ او ددغه سيلاب له امله د بيت الله شريف تهدابونه زيامن شوی او سست شوي ؤ او ديوالونه يی سوري شوي ؤ.

قريشو دهغه احترام او تقدس له امله چې بيت الله شريف ته يې درلود، بله چاره يې نه لرله پرته له دې چې د کعبې شريفې په جوړولو او استحکام پيل وکړي؛ البته دبيت الله شريف احترام او درناوی هغه څه ؤ چې دابراهيم عليه السلام له وخت څخه په عربو کې راپاتې ؤ. رسول الله صلی الله عليه وسلم د بعثت څخه مخکې د کعبې شريفې ديوې برخې رغولو او استحکام کې پوره مشارکت او برخه اخيستی ؤ چې پيغمبرعليه السلام به تيگې په اوږه راوړلی په داسې حال کې چې پرته له يوه لنگ څخه نور څه يې په تن کې نه ؤ او دصحيحو رواياتو له مخې د پيغمبرعليه السلام عمرمبارک په دغه وخت کې له پنځه ديرشو څخه اوړيدلی ؤ.

د قريشو د جوړولو او رغولو په اړه ازرقي وايي:(د ابراهم عليه السلام او د جرهم قبيلې پر وخت د کعبې دروازه لاندې پر ځمکه اينبودل شوی وه کله چې قريشو کعبه شريفه جوړوله دبيت الله دروازه يې اوچته کړه. ابوحذيفه بن مغيره قريشو ته وويل: د بيت الله دروازه لوړه کيږدئ ترڅو هرکس ورته دداخليدو توان ونلري او هغه څوک به ورته داخليږي چې تاسو وغواړی چې ورته داخل شي.[ أخبار مکة للأزرقي، تهذيب الأسماء للنووی ]

**٦- د عبدالله بن زبير رضی الله جوړونه:**کله چې د يزيدبن معاويه لښکريان دشام څخه مکې ته د جنگ لپاره ورسيدل ؛ کعبه شريفه د جنگ له کبله وسوزيدله؛ خلاصه داچې د شام لښکريانو د حصين ابن نمير په قومنده او ديزيد بن معاويه په امر سره په ٦٣ هـ کال کې حضرت عبدالله بن زبير يي په مکه مکرمه کې محاصره کړ او کعبه شريفه يي په منجنيقو سره وويشتله چې د همدې امله کعبه شريفه ورانه شوه او اور يي واخيست. عبدالله بن زبير منتظر پاتې شو ترڅو چې دحج موسم را ورسيد او خلک حج ته په تيزۍ سره راغلل، عبدالله بن زبير له هغوی څخه مشوره وغوښتله او وه يي ويل: ای خلکو! د کعبې شريفې په اړه ماته مشوره راکړئ او لارښوونه راته وکړئ چې آيا کعبه شريفه ورانه کړم او له سره يې جوړه کړم يا داچې يواځې هغه برخه چې ورانه شوی ده هغه جوړه او ورغوم؟ عبدالله ابن عباس رضي الله ورته وويل: بهتره ده چې هغه برخه ورغوی چې

ورانه شوی ده. کعبه شریفه او دهغې تیګې چې خلکو ورته عقیده لري په خپل حالت يي پریږده. عبدالله ابن زبیر وویل: پوه شئ چې زه دری ځله د الله دکور کعبې شریفې د جوړولو په اړه د خپل پروردګار ته استخاره کوم او بالاخره خپل تصمیم نیسم. د دری ورځو استخارو څخه وروسته عبدالله ابن زبیر کعبه شریفه ورانه کړه، دهغې ستنې یې لری کړلی او دکعبې شریفې پردې(غلاف) یي راټولی کړلی او بیت الله شریف کې یې شپږ ګزه اندازه چې قریشو کمه کړی وه بیرته ور زیاته کړه او په لوړوالي کې يي هم لس ګزه ور زیاته کړله او دوه دروازې يي ورته جوړې کړی چې یوه د داخلیدو او بله د وتلو دروازه وه.

دا جرئت ابن زبیر ته هغه حدیث ورکړی ؤ چې ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها د پیغمبرعلیه السلام څخه دکعبې دآبادولو په اړه روایت کړی دی. عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم- قَالَ لَهَا يَا عَائِشَةُ لَوْلاَ أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ لأَمَرْتُ بِالْبَيْتِ فَهُدِمَ فَأَدْخَلْتُ فِيهِ مَا أُخْرِجَ مِنْهُ وَأَلْزَقْتُهُ بِالأَرْضِ وَجَعَلْتُ لَهُ بَابَيْنِ بَابًا شَرْقِيًّا وَبَابًا غَرْبِيًّا فَبَلَغْتُ بِهِ أَسَاسَ إِبْرَاهِيمَ) صحیح البخاري

ترجمه:- ای عائشې که چیرې ستا دقوم دنوی اسلام خاطر نه وای نو امر به مې کړی وای چې دا بیت الله ونړول شي او په دې کې به مې هغه برخه داخله کړی وای چې بیرون پاتې شوی ده او بیت الله به مې زمکې سره لږولی وای او دوه دروازې به مې په کې جوړی کړای وای یوه شرقي دروازه او بله غربي دروازه او دابراهیم علیه السلام تهدابونو ته به مې ښکته کړی وای.

**۷-د حجاج بن یوسف ثقفي جوړول:** د عبدالله بن زبیر له شهادت څخه وروسته لکه څرنګه چې امام مسلم په خپل سند سره د امام عطاء څخه روایت کړی دی، حجاج دعبدالله بن زبیر رضی الله عنه دمرګ خبر عبدالملک بن مروان ته ورکړ او هغه ته یې ولیکل چې عبدالله بن زبیر دکعبې تهدابونه په هغه ځای کې ایښي دي چې دمکې عادل اشخاص په کوم نظر باندې وو. عبدالملک بن مروان دهغه

دلیک په ځواب کې ولیکل چې د عبدالله ابن زبیر بې ننګه کارونو ما سره هیڅ ارتباط نشته.هغه لوړوالی چې هغه په کې رامنځ ته کړی دی په خپل حالت یې پریږده او هغه زیاتوالی چې په حجر الاسود کې یې راوستی دی هغه قدیمي حالت ته ورسوه او هغه نوی دروازه چې يي په کې زیاته کړی ده هغه بنده کړه حجاج کعبه شریفه ورانه کړه او هغه يي قدیمي حالت باندې جوړه کړه . یوځل هارون الرشید هم تصمیم ونیولو چې کعبه شریفه ورانه کړي او دعبدالله ابن زبیر په طریقه یې آباده کړي ؛ مګر امام مالک بن انس رحمه الله هغه ته وویل: ای امیر المؤمنینه! تاته په خدای قسم در کوم د خپل مرګ څخه وروسته کعبه شریفه د شاهانو دلاس بازیچه مه ګرځوه ؛ ځکه په دې کار سره د کعبې شریفې هیبت دخلکو له زړونو څخه وزي.

## ب: د حج تاریخچه :

حج د اسلام دپنځو ارکانو څخه یو رکن دی چې دهجرت په نهم کال فرض شوی دی او په هر عاقل، بالغ او آزاد مسلمان چې حج ته د تللو مالي او بدني توانې ولري په ټول عمر کې ور باندې یو ځل فرض دی. الله تعالی فرمايلي دي:(وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً)آل عمران:(۹۷)

ترجمه:- او خاص دالله تعالی لپاره (فرض دی) ددې کور حج په هغه چا باندې چې څوک ورته دلارې د ورتللو توان ولري.

حج په حقیقت کې داولو العزم پیغمبر، دپغمبرانو دامام، دموحدینو پیشوا حضرت ابراهیم علیه السلام دتاریخ یادونه ده چې هغه د خپل دکوچنۍ او مبارکې کورنۍ چې داخلاص، وفاء، ایثار او قربانۍ نمونه وه، هغه چې په دې بې کښته اوخشک ځای کې یې سخت زحمتونه ګاللي ؤ او د سپیڅلي محبت او بې کچه دوستي یي نمایش ته وړاندې کړی وه او وروسته چې په هره زمانه او عصر کې پیغمبران او انبیاء راغلي دي هغه اعمال او افعال چې ابراهیم علیه السلام انجام کړي وو هغه یې تکرار کړي دي او بالکل د هغوی په نقش قدم باندې يي قدم ایښودی ؤ.

کله چې ابراهیم علیه السلام او دهغه زوی اسماعیل علیه السلام د کعبې شریفې آبادول سرته ورسول، الله تعالی ورته امر وکړ چې د حج داداء کولو لپاره خلکو ته اعلان وکړه. الله تعالی فرمايلي دي:{وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ}الحج: (٢٧)

ترجمه:- او خلکو ته اعلان وکړه دحج د ادا کولو چې راشي تاته پیاده او سپاره په ډنگرو اوښانو ؛ ترڅو راشي د هر لرى لارې څخه.

ابراهیم علیه السلام وویل: ای ربه! زه به دا اعلان څرنګه خلکو ته ورسوم په داسې حال کې چې زما آواز ټولو خلکو ته نه رسيږي؟ ابراهیم علیه السلام ته وویل شو ته يواځې آواز وکړه رسول يي پر مونږ دي. ابراهیم علیه السلام په مقام ابراهیم ځای کې ، یا دصفا غونډۍ سره او یا هم د ابو قبیس غر په سر و دریده او آواز يي وکړ . ای خلکو ! الله تعالی ستاسو لپاره دا آباد کور غوره کړی دی، ددې کور حج وکړئ. دابراهیم علیه السلام آواز چې هر چا واوریده او هغه ته يې جواب ورکړ هغه به حج کوي.د ابراهیم علیه السلام آواز کانو ، لرګو ټولو دابراهیم علیه السلام آواز واوریده او هغه ته يې ( لبیک اللهم لبیک) وويل.[ ابن أبي شيبة، ابن جرير ، ابن المنذر ، الحاكم، والبيهقى، الفاكهي]

په يو روايت کې راځي(عن بن إسحاق قال: لما فرغ إبراهيم -خليل الرحمن- من بناء البيت الحرام جاءه جبريل فقال: طف به سبعًا فطاف به سبعًا هو وإسماعيل يستلمان الأركان كلها في كل طواف، فلما أكملا سبعًا هو وإسماعيل صليا خلف المقام ركعتين قال: فقام معه جبريل فأراه المناسك كلها: الصفا والمروة ومنى ومزدلفة وعرفة. قال: فلما دخل منى وهبط من العقبة تمثل له إبليس عند جمرة العقبة، فقال له جبريل: ارمه، فرماه إبراهيم بسبع حصيات فغاب عنه، ثم برز له عند الجمرة الوسطى فقال له جبريل: ارمه، فرماه بسبع حصيات فغاب عنه، ثم برز له عند الجمرة السفلى فقال له جبريل: ارمه، فرماه بسبع حصيات مثل حصى الخذف فغاب عنه إبليس.ثم مضى إبراهيم في حجه وجبريل يوقفه على المواقف ويعلمه المناسك حتى انتهى إلى عرفة، فلما انتهى إليها قال له جبريل: أعرفت مناسكك؟ قال إبراهيم: نعم قال: فسميت عرفات بذلك؛ لقوله: أعرفت مناسكك؟ قال: ثم أمر إبراهيم أن يؤذن في الناس بالحج قال: فقال إبراهيم: يا رب ما يبلغ صوتي قال الله سبحانه: "أذن وعلي البلاغ" قال: فعلا على المقام فأشرف به حتى صار أرفع الجبال وأطولها, فجمعت له الأرض يومئذ سهلها وجبلها وبرها وبحرها وإنسها وجنها, حتى أسمعهم جميعًا. قال: فأدخل إصبعيه في أذنيه وأقبل بوجهه يمنًا وشامًا وشرقًا وغربًا وبدأ.[ أخبار مكة للأزرقي]

ترجمه:- دامام اسحاق په روایت کې راځي:کله چې ابراهیم علیه السلام د بیت الله شریف د جوړولو څخه فارغ شو جبرائیل علیه السلام ورته راغی او ورته يي وویل: د بیت الله څخه اووه ځله طواف وکړه. ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام دبیت الله شریف څخه اووه ځله طواف وکړ او دواړو په هر طواف کې د بیت الله شریف د ټولو ارکانو استلام کاوه. کله چې ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام اووه طوافونه پوره کړل د مقام ابراهیم شاته يې دوه رکعته لمونځ وکړ.جبرائیل علیه السلام ورته دحج ټول مناسک ور وښودل : صفا او مروه، منی ، مزدلفه او عرفات.کله چې منی ته داخل شو او لوموړۍ عقبې ځای ته ورسید شیطان ورته ځان ور ښکاره کړ، جبرائیل علیه السلام ورته وویل: په تیګو یيووله، ابراهیم علیه السلام شیطان دعقبې په خوا کې په اوه ګیټکیو(ډبرو) سره وویشت او شیطان غائب شو، بیا شیطان د دوهمې عقبې په خوا کې ورته رابښکاره شو جبرائیل علیه السلام ورته وویل : وه يې وله، ابراهیم علیه السلام په اوه تیګو وویشت او غائب شو، بیا ورته شیطان ددریمې عقبې په ځای کې ځان ور ښکاره کړ. جبرائیل علیه السلام ورته وویل په تیګو يي ووله، ابراهیم علیه السلام شیطان په اوه تیګو وویشت او ابلیس غائب شو. ابراهیم علیه السلام په خپل حج کې وړاندې ولاړ او جبرائیل علیه السلام به ابراهیم علیه السلام په ځایونو درولو او دحج مناسک به يې ور ته ور ښودل؛ تر هغې چې عرفات ته ورسید؛ کله چې عرفات ته ورسید جبرائیل علیه السلام ورته وویل اوس دې دحج مناسک وپیژندل؟ ابراهیم علیه السلام ورته وویل: هو! ددې امله دغه ځای ته عرفات وویل شو چې جبرائیل علیه السلام ابراهیم علیه السلام ته داسې وویل: (أعرفت مناسکک؟) آيا دحج مناسک دې وپیژندل؟ بیا ورته جبرائیل علیه السلام امر وکړ چې خلکو ته دحج اعلان وکړه. ابراهیم علیه السلام وویل: ای زما ربه! زما آواز به دوی ته څرنګ ورسیږي؟ الله تعالی ورته وویل: ته اعلان وکړه او رسول يې پرما دي. بیا ابراهیم علیه السلام مقام ابراهیم

تیگې ته وخوت او دغرونو څخه هم پورته کړل شو او په دغه ورځ ورته ټوله زمکه راټوله کړای شوه خوړونه، غرونه، وچه ، بحرونه، انسانان او پیریان ټول ؛ ترڅو ټولو ته دده آواز ورسول شو. بیایې خپل لاسونه په غوږونو کې دننه کړل مخ یې ښي ، کیڼ، شمال او جنوب لورى ته واړولو او دحج اعلان یې وکړ او په ښي اړخ یې شروع وکړه او وه یې ویل: اى خلکو پرتاسې د الله د پخواني کور بیت الله شریف حج فرض شوی دی دخپل رب بلنې ته (لبیک) ووایاست.

وفی روایة احمد (إن إبراهيم لما أمر بالمناسك عرض له الشيطان عند المسعى فسابقه فسبقه إبراهيم ثم ذهب به جبريل إلى جمرة العقبة فعرض له الشيطان فرماه بسبع حصيات حتى ذهب ثم عرض له عند الجمرة الوسطى فرماه بسبع حصيات وثم تله للجبين وعلى إسماعيل قميص أبيض وقال يا أبت إنه ليس لي ثوب تكفنني فيه غيره فاخلعه حتى تكفنني فيه فعالجه ليخلعه فنودي من خلفه { أن يا إبراهيم قد صدقت الرؤيا } فالتفت إبراهيم فإذا هو بكبش أبيض أقرن أعين).[مسند أحمد]

ترجمه:- دامام احمد ابن حنبل رح په روایت کې راځي: کله چې ابراهیم علیه السلام ته دحج د مناسکو کولو امر وشو شیطان ورته د صفاو او مروه په سعی کې را ښکاره شو او دابراهیم علیه السلام سره یې مسابقه وکړه ابراهیم ور څخه مخکې شو. بیا جبرائیل علیه السلام ابراهیم علیه السلام دجمرې خوا ته بوتللو ، هلته ورته بیا شیطان راښکاره شو شیطان یې په اوه ګیټکیو سره وویشت، بیا ورته دمنځنی جمری سره را ښکاره شو، بیایي په اوه ګیټکیو سره وویشت، په همدغه ځای کې ابراهیم علیه السلام اسماعیل علیه السلام لره پړمخې څملولو او داسماعیل علیه السلام په غاړه سپین قمیص ؤ، پلار ته یي وویل: اى پلاره ! زما بل قمیص نشته چې بیا ماته ترى کفن را کړى دا قمیص له ما څخه وباسه چې په دې کې مې کفن کړى، ابراهیم علیه السلام دهغه دقمیص د ویستلو کوښښ کولو دشا څخه آواز وشو چې دا آیت نازل شو{ أن يا إبراهيم قد صدقت الرؤيا }اى ابراهیمه! بیشکه تاربښتیا کړ خوب . ابراهیم علیه السلام شاته و کتل ګوري چې سپین د خکرو والا پسه ولاړ دى.[مسند أحمد]

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولکم وسائر المسلمين.**